د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او
د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# د قرآن کریم زده کړه
# او
# اسلامي ښوونه او روزنه

## څلورم ټولګی

Ketabton.com

د چاپ کال: ۱۳۸۹ هـ . ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درسی کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري
په بازار کې يې اخيستنه او خرڅونه په کلکه منع
ده. له سر غړونکو سره قانوني چلند کيږي.

ISBN 978-9936-25-169-4

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پوهنې وزارت**
د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او
د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# د قرآن کریم زده کړه
# او
# اسلامي ښوونه او روزنه

## څلورم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۸۹ هـ . ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د کتاب د تالیف، څېړنې او تدقیق کمیټې**

**لیکوال:** مولوي عبد الوکیل د اسلامي علومو د دیپارټمنت علمي او مسلکي غړی

**ژباړن:** سرمؤلف الحاج مولوي بسم الله بختیار د اسلامي علومو د دیپارټمنت علمي او مسلکي غړی.

**سلاکاره کمیټه:**

۱_ دکتور احسان الله د اسلامي علومو د دیپارتمنت آمر.

۲_ سرمؤلف الحاج بسم الله بختیار د اسلامي علومو د دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی

۳_ عبدالرقیب جهید د اسلامي علومو د دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی.

۴_ سرمؤلف محمد انیس یونس د عربي ژبې او ادبیاتو د دیپارتمنت آمر .

۵_ مولوي عبدالوکیل د اسلامي علومو د دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی.

٦_ مؤلف شیر احمد مسعودی د اسلامي علومو د دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی.

۷_ استاد رقیب الله ابراهیمي د اسلامي علومو د د پیارتمنت علمي او مسلکي غړی.

۸_ مایل آقا متقي د اسلامي علومو د د پیارتمنت علمي او مسلکي غړی.

**د څېړنې او تدقیق کمېټه:**

۱_ پوهاند عبد السلام عظیمي قاضي القضات او د سترې محکمې رئیس.

۲_ قضاوت پوه استاد قیام الدین کشاف.

۳_ قاضي نذیر احمد حنفي د ولسي جرګې د تقنین کمیسیون مرستیال.

۴_ مولوي عبدالعزیز د ولسي جرګې د دیني ، پوهنې او لوړو زده کړو د کمیسیون غړی .

۵_ کرامت الله صدیق د حج او اوقافو وزارت د تدقیق کمیسیون رئیس.

٦_ مولوي عین النعیم فیضي د علماؤ د سراسري شورا غړی .

۷_ مولوي عنایت الله بلیغ د علماؤ د سراسري شورا غړی .

**د محتویاتو، سیاسي، فرهنګي، او دیني برخو د څېړنې او کره کتنې کمیټه:**

۱– دکتور محمد یوسف نیازی د پوهنې وزارت لوی سلا کار.

۲– محمد آصف ننګ د پوهنې وزارت د خپرونو او اطلاعاتو رئیس.

## د تدقیق، تصحیح او خارنې کمیسیون:

دکتور عبدالغفور غزنوي د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او د ساینس د مرکز معین- د کمیسیون رئیس.

د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی رئیس.- غړی

سید محمود خلیق د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست علمي غړی- غړی

**کمپوز او ډیزاین:** رحمت الله غفاري

**د مطالبو فهرست**


| شماره | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| ۱ | د قرآن کریم د زده کړې مضمون | ۱_____۱۰ |
| ۲ | د اسلامي ښوونې او روزنې مضمون : لومړی فصل: عقاید. | ۱۱_____۲۲ |
| ۳ | دویم فصل: فقه | ۲۳_____۳۸ |
| ۴ | دریم فصل: اخلاق | ۳۹_____۵٦ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د پوهنې د وزير پيغام**

**ګرانو استادانو، ښوونکو او زده کوونکو،**

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختيا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعليمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د علمي پرمختګ او ټولنې د اړتياوو له مخې رامنځته کيږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنيزې اړتياوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعليمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښايي چې تعليمي نصاب د سياسي بدلونونو او د اشخاصو د نظريو او هيلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتيب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زياتې شوې دي. د زده کړې په بهير کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدريسي پلان برخه ګرځيدلې ده.

هيله من يم دا کتاب له لارښوونو او تعليمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د ميتودونو د کارولو له لارې تدريس شي او د زده‌کوونکو ميندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکيفيته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هيلې ترسره شي او زده‌کوونکو او هېواد ته ښې برياوې ور په برخه کړي.

زه پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ ګران استادان او ښوونکي د تعليمي نصاب په رغنده پلي کولو کې ستره دنده او دروند مسؤوليت لري.

د پوهنې وزارت تل زيار کاږي چې د پوهنې تعليمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دين له بنسټونو، د وطن دوستی د پاک حس په ساتلو او علمي معيارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتياوو له مخې پراختيا ومومي.

په دې ډګر کې د هېواد له ټولو علمي شخصيتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له ميندو او پلرونو څخه هيله لرم چې د خپلو نظريو او رغنده وړانديزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تاليف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې ددې کتاب په چمتو کولو او ترتيب کې يې مرسته کړې، له ملي او نړيوالو درنو موسسو، او نورو ملګرو هېوادونو څخه چې د نوي تعليمي نصاب په چمتو کولو او تدوين او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې يې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفيق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزير

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د قرآن کریم د زده کړې مضمون
## د حفظ کولو برخه (۱)

لومړی لوست:

## د فاتحې سورت (حفظ، تلاوت سره له تجوید)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ﴿١﴾
الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٢﴾ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ﴿٣﴾
مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ ﴿٤﴾ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ
﴿٥﴾ اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ ﴿٦﴾ صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ
عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ ﴿٧﴾

دویم لوست:

## د الاخلاص سورت (حفظ، تلاوت سره له تجوید)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ
قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ﴿١﴾ اللَّهُ الصَّمَدُ ﴿٢﴾ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ
يُولَدْ ﴿٣﴾ وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ ﴿٤﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم لوست:

## د الفلق سورت (حفظ، تلاوت سره له تجوید)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
قُلْ أَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ① مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ② وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا
وَقَبَ ③ وَمِنْ شَرِّ النَّفّٰثٰتِ فِي الْعُقَدِ ④ وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ ⑤

ځلورم لوست:

## د الناس سورت (حفظ، تلاوت سره له تجوید)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
قُلْ أَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ ① مَلِكِ النَّاسِ ② إِلٰهِ النَّاسِ ③
مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ ۵ الْخَنَّاسِ ④ الَّذِيْ يُوَسْوِسُ فِيْ
صُدُوْرِ النَّاسِ ⑤ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ⑥

## د تلاوت برخه (۱)

پنځم لوست:

## د العلق سورت له (۱_____۵) آیتونه (تلاوت سره له تجوید)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
اِقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِيْ خَلَقَ ① خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ ②
اِقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ ③ الَّذِيْ عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ④ عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا
لَمْ يَعْلَمْ ⑤

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم لوست :

## دالعلق سورت له (۲___۱۲) آیتونه (تلاوت سره له تجوید)

كَلَّآ إِنَّ الْإِنسَانَ لَيَطْغَىٰٓ ۝٦ أَن رَّءَاهُ اسْتَغْنَىٰٓ ۝٧ إِنَّ
إِلَىٰ رَبِّكَ الرُّجْعَىٰٓ ۝٨ أَرَءَيْتَ الَّذِي يَنْهَىٰ ۝٩ عَبْدًا إِذَا صَلَّىٰٓ ۝١٠
أَرَءَيْتَ إِن كَانَ عَلَى الْهُدَىٰٓ ۝١١ أَوْ أَمَرَ بِالتَّقْوَىٰٓ ۝١٢

اووم لوست:

## د العلق سورت له (۱۳___۱۹) آیتونه (تلاوت سره له تجوید)

أَرَءَيْتَ إِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰٓ ۝١٣ أَلَمْ يَعْلَم بِأَنَّ اللَّهَ يَرَىٰ ۝١٤ كَلَّا
لَئِن لَّمْ يَنتَهِ لَنَسْفَعًا بِالنَّاصِيَةِ ۝١٥ نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ خَاطِئَةٍ ۝١٦
فَلْيَدْعُ نَادِيَهُ ۝١٧ سَنَدْعُ الزَّبَانِيَةَ ۝١٨ كَلَّا لَا تُطِعْهُ وَاسْجُدْ
وَاقْتَرِب ۝١٩ السجدة

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم اونهم لوستونه:

## د التين سورت (تلاوت سره له تجوید)

**أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ**

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
وَالتِّيْنِ وَالزَّيْتُوْنِ ﴿١﴾ وَطُوْرِ سِيْنِيْنَ ﴿٢﴾ وَهٰذَا الْبَلَدِ الْاَمِيْنِ ﴿٣﴾
لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِيْٓ اَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ ﴿٤﴾ ثُمَّ رَدَدْنٰهُ اَسْفَلَ
سٰفِلِيْنَ ﴿٥﴾ اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَلَهُمْ اَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُوْنٍ ﴿٦﴾
فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِالدِّيْنِ ﴿٧﴾ اَلَيْسَ اللّٰهُ بِاَحْكَمِ الْحٰكِمِيْنَ ﴿٨﴾

لسم اويولسم لوستونه:

## د الانشراح سورت (تلاوت سره له تجوید)

**أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ**

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
اَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ ﴿١﴾ وَوَضَعْنَا عَنْكَ وِزْرَكَ ﴿٢﴾
الَّذِيْٓ اَنْقَضَ ظَهْرَكَ ﴿٣﴾ وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ ﴿٤﴾ فَاِنَّ مَعَ
الْعُسْرِ يُسْرًا ﴿٥﴾ اِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ﴿٦﴾ فَاِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ ﴿٧﴾
وَاِلٰى رَبِّكَ فَارْغَبْ ﴿٨﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولسم او دیارلسم لوستونه :

## د الضحی سورت (تلاوت سره له تجوید)

**أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ**

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
وَالضُّحٰى ﴿١﴾ وَاللَّيْلِ اِذَا سَجٰى ﴿٢﴾ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلٰى ﴿٣﴾
وَلَلْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ الْاُوْلٰى ﴿٤﴾ وَلَسَوْفَ يُعْطِيْكَ رَبُّكَ
فَتَرْضٰى ﴿٥﴾ اَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيْمًا فَاٰوٰى ﴿٦﴾ وَوَجَدَكَ ضَآلًّا
فَهَدٰى ﴿٧﴾ وَوَجَدَكَ عَآئِلًا فَاَغْنٰى ﴿٨﴾ فَاَمَّا الْيَتِيْمَ فَلَا تَقْهَرْ ﴿٩﴾
وَاَمَّا السَّآئِلَ فَلَا تَنْهَرْ ﴿١٠﴾ وَاَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ﴿١١﴾

## د حفظ کولو برخه (۲)

څوارلسم لوست :

## د تبّت سورت (حفظ، تلاوت سره له تجوید)

**أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ**

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
تَبَّتْ يَدَآ اَبِيْ لَهَبٍ وَّتَبَّ ﴿١﴾ مَآ اَغْنٰى عَنْهُ مَالُهٗ وَمَا
كَسَبَ ﴿٢﴾ سَيَصْلٰى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ ﴿٣﴾ وَّامْرَاَتُهٗ حَمَّالَةَ
الْحَطَبِ ﴿٤﴾ فِيْ جِيْدِهَا حَبْلٌ مِّنْ مَّسَدٍ ﴿٥﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځلسم لوست :

## د النصر سورت (حفظ، تلاوت سره له تجوید)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
إِذَا جَآءَ نَصْرُ اللهِ وَالْفَتْحُ (١) وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُوْنَ فِيْ دِيْنِ
اللهِ أَفْوَاجًا (٢) فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا (٣)

شپاړسم لوست:

## د الکوثر سورت: (حفظ، تلاوت سره له تجوید)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
إِنَّآ أَعْطَيْنٰكَ الْكَوْثَرَ (١) فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ (٢) إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ (٣)

اووه لسم لوست:

## د الکافرون سورت (حفظ، تلاوت سره له تجوید)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
قُلْ يٰٓأَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ (١) لَآ أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُوْنَ (٢)
وَلَآ أَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَآ أَعْبُدُ (٣) وَلَآ أَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدْتُّمْ (٤) وَ
لَآ أَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَآ أَعْبُدُ (٥) لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَلِيَ دِيْنِ (٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتلسم لوست:

## د الماعون سورت (حفظ، تلاوت سره له تجوید)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
اَرَءَيْتَ الَّذِيْ يُكَذِّبُ بِالدِّيْنِ ۝١ فَذٰلِكَ الَّذِيْ يَدُعُّ الْيَتِيْمَ ۝٢ وَ
لَا يَحُضُّ عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ ۝٣ فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّيْنَ ۝٤ الَّذِيْنَ هُمْ عَنْ
صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ ۝٥ الَّذِيْنَ هُمْ يُرَآءُوْنَ ۝٦ وَيَمْنَعُوْنَ الْمَاعُوْنَ ۝٧

نولسم لوست :

## د قریش سورت (حفظ، تلاوت سره له تجوید)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
لِاِيْلٰفِ قُرَيْشٍ ۝١ اٖلٰفِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَآءِ وَالصَّيْفِ ۝٢ فَلْيَعْبُدُوْا
رَبَّ هٰذَا الْبَيْتِ ۝٣ الَّذِيْٓ اَطْعَمَهُمْ مِّنْ جُوْعٍ ۙ وَّاٰمَنَهُمْ مِّنْ خَوْفٍ ۝٤

(c) ketabton.com: The Digital Library

شلم لوست :

## د الفيل سورت (حفظ، تلاوت سره له تجويد)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
اَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِاَصْحٰبِ الْفِيْلِ ﴿١﴾ اَلَمْ يَجْعَلْ
كَيْدَهُمْ فِيْ تَضْلِيْلٍ ﴿٢﴾ وَّاَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا اَبَابِيْلَ ﴿٣﴾
تَرْمِيْهِمْ بِحِجَارَةٍ مِّنْ سِجِّيْلٍ ﴿٤﴾ فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّاْكُوْلٍ ﴿٥﴾

## دتلاوت برخه(۲)

يو ويشتم لوست :

## د الشمس سورت له (۱ــــ ۱۰) آيتونه (، تلاوت سره له تجويد)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
وَالشَّمْسِ وَضُحٰهَا ﴿١﴾ وَالْقَمَرِ اِذَا تَلٰهَا ﴿٢﴾ وَالنَّهَارِ اِذَا
جَلّٰهَا ﴿٣﴾ وَالَّيْلِ اِذَا يَغْشٰهَا ﴿٤﴾ وَالسَّمَآءِ وَمَا بَنٰهَا ﴿٥﴾
وَالْاَرْضِ وَمَا طَحٰهَا ﴿٦﴾ وَنَفْسٍ وَّمَا سَوّٰهَا ﴿٧﴾ فَاَلْهَمَهَا فُجُوْرَهَا
وَتَقْوٰهَا ﴿٨﴾ قَدْ اَفْلَحَ مَنْ زَكّٰهَا ﴿٩﴾ وَقَدْ خَابَ مَنْ دَسّٰهَا ﴿١٠﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه ویشتم لوست:

## د الشمس سورت له ( ۱۱__۱۵ آیتونه (تلاوت سره له تجوید )

كَذَّبَتْ ثَمُودُ بِطَغْوٰىهَآ ﴿١١﴾ إِذِ انۢبَعَثَ أَشْقٰىهَا ﴿١٢﴾ فَقَالَ لَهُمْ
رَسُولُ اللّٰهِ نَاقَةَ اللّٰهِ وَسُقْيٰهَا ﴿١٣﴾ فَكَذَّبُوهُ فَعَقَرُوهَا فَدَمْدَمَ
عَلَيْهِمْ رَبُّهُم بِذَنۢبِهِمْ فَسَوّٰىهَا ﴿١٤﴾ وَلَا يَخَافُ عُقْبٰهَا ﴿١٥﴾

در ویشتم لوست:

## د الليل سورت له ( ۱____۷) آیتونه (، تلاوت سره له تجوید)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ
وَالَّيْلِ إِذَا يَغْشٰى ﴿١﴾ وَالنَّهَارِ إِذَا تَجَلّٰى ﴿٢﴾ وَمَا خَلَقَ الذَّكَرَ
وَالْأُنْثٰىٓ ﴿٣﴾ إِنَّ سَعْيَكُمْ لَشَتّٰى ﴿٤﴾ فَأَمَّا مَنْ أَعْطٰى وَاتَّقٰى ﴿٥﴾
وَصَدَّقَ بِالْحُسْنٰى ﴿٦﴾ فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْيُسْرٰى ﴿٧﴾

څلیریشتم لوست:

## د الليل سورت له ( ۸__۱۳) آیتونه (تلاوت سره له تجوید )

وَأَمَّا مَنۢ بَخِلَ وَاسْتَغْنٰى ﴿٨﴾ وَكَذَّبَ بِالْحُسْنٰى ﴿٩﴾
فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْعُسْرٰى ﴿١٠﴾ وَمَا يُغْنِي عَنْهُ مَالُهُۥٓ إِذَا تَرَدّٰىٓ ﴿١١﴾
إِنَّ عَلَيْنَا لَلْهُدٰى ﴿١٢﴾ وَإِنَّ لَنَا لَلْآخِرَةَ وَالْأُولٰى ﴿١٣﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه ویشتم لوست:

## د اللیل سورت له ( ۱۲___۱۴ ) آیتونه (تلاوت سره له تجوید)

فَأَنذَرْتُكُمْ نَارًا تَلَظَّىٰ ﴿١٤﴾ لَا يَصْلَاهَا إِلَّا الْأَشْقَى ﴿١٥﴾
الَّذِي كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿١٦﴾

شپږ ویشتم لوست :

## د اللیل سورت له ( ۲۱___۱۷ ) آیتونه (تلاوت سره له تجوید)

وَسَيُجَنَّبُهَا الْأَتْقَى ﴿١٧﴾ الَّذِي يُؤْتِي مَالَهُ يَتَزَكَّىٰ ﴿١٨﴾
وَمَا لِأَحَدٍ عِندَهُ مِن نِّعْمَةٍ تُجْزَىٰ ﴿١٩﴾ إِلَّا ابْتِغَاءَ وَجْهِ
رَبِّهِ الْأَعْلَىٰ ﴿٢٠﴾ وَلَسَوْفَ يَرْضَىٰ ﴿٢١﴾

## د حفظ اوتلاوت برخې ته مراجعه

اووه ویشتم لوست:

## د حفظ شویو اوتلاوت شویو سورتونو تکرار.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اسلامي ښووني اوروزني مضمون

## لومړی فصل

## عقاید

لومړی لوست

## د اسلام پنځه بنا وې(ارکان)

هدف: دایمان داصولو پیژندنه.
پوښتنه : اسلام څه ته وايي ، او څو بناوې لري؟

اسلام دالله تعالی اوامرو ته غاړه ایښودلو او له منع کړای شوو شیانو څخه یې ځان ژغورلو ته وایې او پنځه بناوې لري چې عبارت دي له :
۱- کلمهٔ طیبه (لَا الهَ الّا اللهُ مُحَمّدٌ رّسُولُ الله).
۲- پنځه وخته لمونځ اَداء کول.
۳- د رمضان د مبارکې میاشتې روژه نیول.
۴- زکات ورکول.
۵- د بیت الله (کعبې شریفې) حج کول د هغه چا لپاره چې توان یې ولري .
څرنګه چې د اسلام مبارک دین، عقیده او عمل دی نو په هر مسلمان لازمه ده چې په دې باندی ایمان ولري چې (نشته لایق دعبادت مګر یو الله تعالی دی او حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د هغه رالیږلی پیغمبر دی، همدارنګه د لمانځه په فرضیت او اداء کولو ، زکات ،حج ، او د رمضان دمیاشتې د روژې په نیولو په ژبه اقرار او په زړه تصدیق (باور ) وکړي.
اسلام اعتقادي اوعملي اړخونه لري سربیره په عمل کولو د لمانځه، روژې، زکات او حج په فرضیت یقین درلودل هم حتمي دي .

هڅونه:
هر زده کوونکی دې د ایمان دیوه اصل نوم واخلي.
ښاغلی ښوونکی د دې ژبی د اقرار او زړه د باور (یقین) په هکله زده کوونکو ته په ساده ژبه پوره معلومات ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دويم لوست

# د ايمان تعريف

هدف: د مؤ من به شيانو پيژندنه.

پو ښتنه:ايمان يعنی څه؟

ايمـان پـه لغـت کـې تـصديق او بـاور تـه وايـي او پـه اصـطلاح کـې پـه لانـدې شيانوباندې اقراراو تصديق ته وايي:

- په الله تعالی.
- په ملايکو( پرښتو).
- په اسمانی کتابونو.
- په پيغمبرانو.
- د آخرت په ورځ.
- د خير او شر اندازه د الله تعالی لخوا ده.

له مرګه وروسته په بيا ژوند باندې ايمان لرل .

همدا سبب دی چې مونږ اقرار کوو او وايو:

(آمَنْتُ بِاللهِ وَ مَلَآئكَتِـه وَ كُتُبِـه وَ رُسُلِه وَالْيَـوْمِ الْـآخِرِ وَ الْقَـدْرِ خَيْـرِه وَ شَرِّه مِـنَ اللهِ تَعَالی وَالْبَعْثِ بَعْدَ الْمَوْتِ).

يعنـې ايمـان لـرم پـه الله تعـالی، ملايکـو، کتـابونو، پيغمبرانـو، او د آخرت پـه ورځ او په دې باندې چې د خير او شر اندازه د الله تعالی لخوا ده او د مـرګ څخـه وروسته په بيا ژوند ون هم ايمان لرم.

هڅونه:

- هر يو زده کوونکی دې د يوه مؤمن به نوم واخلي .

ښاغلی ښوونکی !

زده کوونکي د امنت بالله -------- په ارتباط ارزيابی کړئ په پورتنيو شيانو باندې د ايمان په هکله ورڅخه معلومات وغواړئ.د آمنت بالله........ محتوی ورسره تمرين کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دريم لوست

# په الله تعالی باندې ایمان

هدف: په الله تعالی دایمان راوړلو څرنګوالی او د هغه د صفتونو پيژندنه
په الله تعالی باندې څرنګه ايمان لرو ؟

(آمَنْتُ بِاللّٰهِ كَمَا هُوَ بِاسْمَآئِهِ وَصِفَاتِهِ وَ قَبِلْتُ جَمِيْعَ اَحْكَامِهِ اِقْرَارٌ بِاللِّسَانِ وَ تَصْدِيْقٌ بِالْقَلْبِ)
ترجمه: ايمان لرم په الله تعالی باندې لکه څرنګه چې په خپلو نومونو او صفتونو ستایل شوی دی او قبول کړي مې دي د هغه ټول احکام، دا په ژبه زما اقرار دی او باور او يقين دی په زړه باندې .

چې دغه اقرار او تصديق ته په الله تعالی باندې اجمالي ايمان ويل کيږي. څکه چې په الله تعالی باندې يې ايمان لرل په ډيرو لنډو الفاظو سره راوړي دي. بناء په دې مونږ يقين لرو چې الله تعالی موجود دی، يو دی، شريک نه لري، له ټولو عيبونو څخه پاک او منزه دی، ټول موجودات الله تعالی ته محتاج دي او الله تعالی هيڅ چاته احتياج نه لري. په کماليه صفتونو موصوف دی او ټول صفتونه يې ازلي او ابدي دي د کوم شي سره مشابهت نه لري. ټول عالم يې پيدا کړی دی او د ټولو موجوداتو مالک دی، يوازې همدغه الله تعالی د عبادت لايق دی.

هڅونې:

- زده کوونکي دې لوست په پټه خوله سره مطالعه کړي.
- زده کوونکي دې پورتنی متن ( امَنْتُ .......) له ياده زده کړي.

ارزونه:

- آيا زده کوونکو دايمان په هکله څه معلومات ترلاسه کړي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځلورم لوست

# د الله تعالی په وجود دلیلونه

هدف: دالله تعالی په (شته والي) باندې پوره اعتقاد لرل.

ګرانو زده کوونکو !

کله چې یوې خونې (کوټې) ته ننوځو، اودکور وسایل او لوازم منظم او پاک و وینو، نو پوهیږو چې دا خونه د یوه پوه شخص لخوا تنظیم شوې ده. همدا راز کله چې هغو شیانو ته چې په ټولګي کې دي لکه: میز، چوکۍ، دروازه، کړکۍ او نوروشیانو ته نظر کوو؛ نو پو هیږو چې دا شیان په خپله نه دي پیدا شوي بلکې هر یو یې یوه شخص جوړ کړی دی، نو څرنګه ممکنه ده دا پراخه او بې شمېره عالم لکه: ځمکه ، آسمان او په کې میشت مخلوقات چې د یو دقیق نظام تابع دي او هر یو یې خپله دنده په سمه توګه سرته رسوي پرته له یو خالق او صانع څخه منځ ته راغلي وي ؟

که چیرې د کایناتو نظم د علیم او توانا ذات له خوا څخه نه اداره کېدای نو د دوی او د انسان ژوند به یوه لحظه هم ممکن نه و. نودالله تعالی شکراداءکوو چې مونږیې په ډیر ښکلی شکل سره پیدا کړي یو او دځمکې په سر ټول موجودات یې راته تابع کړي دي چې ورڅخه ګټه واخلو.

هڅونه:

- زده کوونکي دې په ډله ییزه توګه دالله تعالی د وجود په هکله خبرې وکړي .

ارزونه:

آیا زده کوونکي کولای شي دالله تعالی د وجود په هکله یو له بل سره خبرې وکړي؟

ښاغلی ښوونکی!

زده کوونکو ته وخت ورکړئ چې د الله تعالی د وجود په هکله د خپلې پوهې سره سم دلیلونه ووایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم لوست

# دالله تعالی د یووالی دلیل

هدف: دالله تعالی دیووالي له دلیل سره د زده کوونکو آشنا کول.
دالله تعالی په یووالي باندې څه دلیل لرئ؟

الله تعالی هغه ذات دی چې هیچا ته اړتیا نه لري، او ټول شیان د الله تعالی مخلوق دي. مونږ یقین لرو چې الله تعالی یو دی او په ذات او صفاتو کې شریک نه لري. د کوم شي د شرکت څخه پرته یې ټول کاینات په خپل قدرت پیداکړي دي. لمر سپوږمۍ، ستوري، اور، اوبه او هوا ټول د الله تعالی مخلوق دي او دغه شیان د نورو مخلوقاتو په پیدا ایښت کې هیڅ ډول اثر او ګډون نه لري اونه د عبادت لایق دي.

بتان چې د انسانانو په لاس جوړشوي دي، ځان او بل چاته هیڅ ډول ګټه او زیان نه شي رسولی، په هیڅ ډول دالله تعالی شریکان نه شي ګڼل کیدای؛ ځکه شریک ته اړتیا لرل د عجزاونا توانۍ نښه ده، او هغه ذات چې عاجز او ناتوان وي یا شریک ولري د خدایي لایق نه شي کیدای.

هڅونه:
زده کوونکي دې د الله تعالی دیووالي په هکله خبرې وکړي.

ارزونه:
- آیا زده کوونکو دالله تعالی د یووالي دلیل زده کړی دی؟

ښاغلی ښوونکی! کولای شئ د ځینو ملتونو له عقیدو څخه چې په قرآن کریم کې ذکر شوي دي او د مخلوقاتو له جملې څخه ځینی شیان دالله تعالی شریک بولي یادونه وکړئ او د عقلي او نقلي دلیلونو په رڼا کې وربانديې مناقشه وکړئ. اود دې آیت (لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلَّا اللَّهُ لَفَسَدَتَا) او د اخلاص د سورت د محتوی په رڼا کې موضوع شرح کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم لوست

# په ملا یکو ایمان

هدف: د ملایکو پیژندنه او پر هغوی د ایمان لرلو څرنګوالی
آیا پوهیږئ چې ملا یکې د الله تعالی څرنګه مخلوق دی ، او الله تعالی داسې مخلوق لري چې له نور څخه پیدا شوی دی؟

په دې ایمان لرو چې ملایکې دالله تعالی نورانـي مخلوق[1] دی، او لـه نورڅخه پیدا شوي دي نه څه خوري، نه څه څښي او هیڅ کله دالله تعالی د امر څخه سر نه غړوي، کوم کار چې د الله تعالی لخوا ورته امر وشي هغه په پوره توګه سرته رسوي، د ملایکو تعداد ډیر زیات دی خو مشهورې ملایکې یې جبرائیل، میکائیل، اسرافیل اوعزرائیل علیهم السلام دي او کومې دندې چې ورته سپارل شوې وي هغه تر سره کوي، ځینې ملایکې د حفظه (ساتونکو)، ځینې یې د کرام الکاتبین (عزتمن لیکونکي) نومونه لري او ځینی نورې یې ( نکیر منکر) په قبرکې د سوال کولو دنده په غاړه لري.

څوک چې د ملایکو له وجود څخه منکر شي کافر ګڼل کیږي، د ملایکو وجود په قرآن کریم سره ثابت شوی؛ ولې په قرآن کریم کې فقط د ځینو ملایکو نومونه یاد شوي دي.

هڅونې:

- زده کوونکي دې د ملائکو د وجود په هکله مباحثه وکړي.
- زده کوونکي دې د لوست د متن په باره کې یوله بل څخه پوښتنه وکړي .

ارزونه:

آیا زده کوونکي پو هیږي چې مشهورې ملایکې کومې دي؟

یادونه: د علیهم السلام معنا: (سلامتي دې وي په هغوی ټولو باندې.)

---

[1] - ملایکه نوراني مخلوق دی، خوراک او څښاک نه کوي، نر او ښځه نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووم لوست

# په اسماني کتابونو ايمان

هدف: د آسماني کتابونو پيژندنه او پر هغو د ايمان څرنګوالی .
آيا کولی شئ د آسماني کتابونو نومونه واخلئ؟

ايمان لرو چې الله تعالی د انسان د لارښوونې لپاره کتابونه او صحيفې رالیږلي دي چې دا کتابونه عبارت دي له:

۱. تورات په حضرت موسی عليه السلام.
۲. زبور په حضرت داؤد عليه السلام.
۳. انجيل په حضرت عيسی عليه السلام.
۴. او قرآن کريم په حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) باندې نازل شوی دی .

او هغه صحيفې چې په ځينو انبياوو (عليهم السلام) باندې نازلې شوې دي، د هغوی له جملې څخه هغه صحيفې چې په ابراهيم عليه السلام او موسی عليه السلام نازلې شوې دي ، په قرآنکريم کې ورڅخه يادونه شوې ده.

قرآن عظيم الشان د آسماني کتابونو وروستنی کتاب دی چې په حضرت محمد صلی الله عليه وسلم نازل شوی دی او له قرآن کريم څخه وروسته بل آسماني کتاب نه دی نازل شوی اونه نازليږي، دا کتاب د پوره فصاحت ، بلا غت او شرعي احکامو لرونکی دی چې هيڅوک نه شي کولای د قرآن کريم په مثل د يوه آيت په اندازه هم څه راوړي.

هڅونې:

- زده کوونکي دې د لوست متن وروسته له شرحې څخه په پټه خوله مطالعه کړي.
- زده کوونکي دې دآسماني کتابونو په هکله مباحثه وکړي.

ښاغلی ښوونکی!
زده کوونکو ته کورنۍ دنده ورکړئ چې د هغو انبياو (عليهم السلام) نومونه ياد کړي چې کتابونه او صحيفې ورباندې نازلې شوې دي.
يادونه: صحيفې يعنې واړه کتابونه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم لوست

# په انبیاؤ عليهم السلام ایمان

هدف: د انبیاؤ عليهم السلام پیژندنه او په هغوی باندې د ایمان طریقه
پیغمبران څوک دي او د هغوی دندو په هکله څه ویلی شئ؟

انبیاء یا پیغمبران عليهم السلام هغه کسان دي چې الله تعالی دوې د خلکو له جملې څخه د رسالت د دندې لپاره ټاکلي دي، دوې د لویو اوورو ګناهونو څخه خوندي دي. مونږ ایمان لرو چې پیغمبران د انسان د لارښوونې لپاره وخت په وخت رالیږل شوي دي ، دوې خپلې دندې په پوره رینښتینولۍ سره سرته رسولې دي،د پیغمبرانو د لړۍ لومړنی نبي حضرت آدم عليه السلام او وروستنی نبي یې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دی. د پیغمبرانو تعداد زیات دی او ټاکلی شمېر یې معلوم نه دی.
انبیاء (عليهم السلام) ددې لپاره استول شوي چې بشریت د الله د اطاعت او عبادت لپاره راوبولي او د هغه د نافرمانۍ څخه یې وژغوري. انبیاؤ عليهم السلام ته رسولان هم وایي. د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په راتګ سره د نورو انبیاؤ شریعتونه منسوخ شوي دي .

هڅونې:
- زده کوونکي دې د استاد له توضیح څخه وروسته لوست یو ځل په پټه خوله مطالعه کړي.
- زده کوونکي دې د لوست د محتوی په اړه خبرې وکړي.

ارزونه:
- آیا زده کوونکي د لوست په محتوی پوه شوي دي؟ د لوست محتوی بیانولی شي؟

ښاغلی ښوونکی!
زده کوونکو ته دا څرګنده کړئ چې د اسلام پاک دین په ټولو انبیاؤ عليهم السلام باندې عقیده او ایمان لرل ضروري ګڼي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهم لوست

# د اخرت په ورځ ایمان

هدف: د اخرت د ورځې پېژندل او پرهغې د ایمان لرلو څرنګوالی

۱- داخرت ورځ کومه ورځ ده؟

د اخرت ورځ هغه ورځ ده چې په هغې کې انسانان بیا را ژوندي کیږي، او د خپلو کړو وړو اجر او سزا ورکول کیږي. موږ مسلمانان عقیده لرو چې د اخرت ورځ حتماً راتلونکې ده. قرآن کریم دا ورځ د قیامت د ورځې، د حساب د ورځې، او د حشر د ورځې او داسې نورو نومونو سره یاده کړې ده. په دې ورځ کې هرڅوک د خپلو هغو ښو او بدو عملونو پاېلېویني چې په دنیا کې یې کړي وي ، نو هغه څوک چې له ایمان سره یې ښه عملونه ترسره کړي وي جنت ته ځي. او هغه څوک چې په دنیا کې یې بد عملونه کړي وي که یې الله تعالی ونه ښبني د عمل په اندازه د دوزخ عذاب ورکول کیږي او وروسته جنت ته ځي او کافران به همیشه په دوزخ کې وي، په دې اساس د آخرت ورځ په حقیقت کې د انسانانو د ښو اوبدو عملونو د حساب ورځ ده، د آخرت ورځ د قرآن کریم په آیتونوسره ثابته شوې ده. مونږ مسلمانان د آخرت په ورځ ایمان لرو.

هڅوني:

- زده کوونکي دې د آخرت د ورځې په باره کې مباحثه وکړي.
- زده کوونکي دې د لوست محتوی یو له بل څخه وپوښتي.
- زدکوونکي دې ځینې ښه او بد افعال بیان کړي او د هغو مثبتې او منفي دنیوي او اخروي پا یلې دې په ګوته کړي.

ارزونه:

- آیا زده کوونکي دآخرت دورځې له محتوی سره آشنا شوي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

لسم لوست

# په دې باندې ایمان چې د خیراوشر اندازه دالله تعالی لخوا ده

هدف: ددې عقیدې ټینګښت چې دخیر اوشر اندازه دالله تعالی لخوا ده

مونږ عقیده لرو، چې د خیر او شر اندازه د الله تعالی لخوا ده. او الله تعالی د خیر او شر اندازه په ازل کې ټاکلې ده. په دې باید پوه شو چې په الهي تقدیر باندې ایمان لرل د اجبار معنا نه لري بلکې تقدیر د الله تعالی د علم کمال (بشپړتیا) ده چې په ازل کې په هرڅه باندې عالم دی. موږ ګورو چې انسان د کارونو په سرته رسولو کې مختار دی، ښه یا بد کارونه تر سره کولای شي. الله تعالی هیڅوک په یوه ځانګړي کار نه مجبوروي؛ بلکې هر انسان ته یې اختیار ورکړی چې د خیر پیروي وکړي او د شر څخه ځان وساتي .

هڅوني:

- زده کوونکي دې دلوست دمحتوی په هکله له یوبل سره مباحثه وکړي.
- زده کوونکي دې د لوست محتوی یو له بل څخه وپوښتي.

ښاغلی ښوونکی !

د لوست د موضوع په هکله زده کوونکوته په ساده ژبه د مثالونو د څرګندولو په ترڅ کې پوره معلومات ورکړئ. او هم د تقدیر په مسئله کې د الله تعالی د کامل علم وضاحت وکړئ. او هم واضح کړئ چې تقدیر د اجبار معنی نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوولسم لوست

# په بیا ژوندون باندې ایمان

هدف: د مرګ نه پس په بیا ژوندون ایمان لرل او د هغه پیژندنه
ځوک کولای شي د بیاژوندون لپاره یو مثال راوړي؟

د مړینې څخه وروسته بیا را ژوندي کیدل حق دي. مسلمان باید په هغه عقیده او ایمان ولري، موږ ایمان لرو چې په شپیلۍ کې د حضرت اسرافیل علیه السلام د لومړي ځل پوکي څخه وروسته ټول ژوندي موجودات د یوې مودې لپاره مري. وروسته بیا د الله تعالی په امر سره د دوهم ځل لپاره حضرت اسرافیل علیهم السلام په شپیلۍ کې پوکی کوي او له هغه سره مړه موجودات بیا ژوندي کیږي. د نیکو او بدو عملونو د محاسبې لپاره چې په دنیا کې یې کړي دي حاضریږي. نیکو کارانو ته ثواب ورکول کیږي ، د الله تعالی په مهربانۍ جنت ته ځي؛ او بد کارانو ته که الله تعالی وغواړي جزا ورکول کیږي او کافران په دوزخ کې په درد ناک عذاب اخته کیږي.

هڅونې:
- زده کوونکي دې د لوست د محتوی په هکله له یوبل سره مباحثه وکړي.
- زده کوونکي دې د لوست محتوی یوله بل څخه وپوښتي.

ارزونه:
- آیا زده کوونکي په دې پوه شوي دي چې انسانان پس له مرګه بیا ژوندي کیږي؟ او په مثال کې یې واضح کولی شي؟

ښاغلی ښوونکی!
د لوست د محتوی په هکله زده کوونکو ته پوره معلومات ورکړئ اوموضوع په مثالونو سره جوته کړئ.
زده کوونکو ته واضحه کړئ هغه ذات چې انسان یې د لومړي ځل لپاره پیداکړی دی په دې قادر دی چې بیا یې را ژوند ي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تمرین

١. د اسلام پنځه بنا ګانې کومې دي؟
٢. د طیبې کلمې معنا څه ده؟
٣. د اسلام د اصولو منکر څه حکم لري؟
۴. ایمان تعریف کړئ.
۵. د آمنت بالله----- متن ووایئ.
۶. په الله تعالی څرنګه ایمان لرو؟ په خپله ژبه یې ووایئ.
٧. د الله تعالی په وجود باندې یو، یو دلیل راوړئ.
٨. ملایک د الله تعالی څرنګه بندګان دي؟ بیان یې کړئ.
٩. په انبیاؤ علیهم السلام څرنګه ایمان لرئ ؟
١٠. په آسماني کتابونو څرنګه ایمان لرئ ؟ بیان یې کړئ.
١١. د آخرت په ورځ څرنګه ایمان لرئ؟
١٢. د خیر او شر اندازه څرنګه د الله تعالی لخوا ده؟ بیان یې کړئ.
١٣. په بیا ژوندون څرنګه ایمان لرئ؟ خبرې ورباندې وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم فـصل

## فـقـهه

دولسم لوست

## لمونځ د اسلام دويم رکن دی

هدف: دلمانځه زده کول .

له تاسو څخه کوم يو کولای شي داوداسه او تيمم په باره کې څه ووايي؟

لمونځ انسان کومو نېکيو ته را بولي؟

لکه څرنګه مو چې د اوداسه او غسل احکام په تېرو ټولګيو کې زده کړل او همدارنګه د لمانځه خارجي او داخلي فرضونه مو هم زده کړل، اوس د لمانځه پاتې نور احکام زده کوو .

لمونځ په شريعت کې هغه اقوال او افعال دي چې په تحريمه تکبير سره پيل او د سلام په ګرځولو سره پای ته رسيږي.

لمونځ د اسلام ډېر اساسي رکن دی ، چې په قرآن کريم کې يې څو ځله ذکر راغلی دی.

د لمانځه اداء کول انسان د نيکو کارونو کولو ته دعوتوي او له ناوړه کارونو څخه يې منع کوي.

هڅوني:

- زده کوونکي دې د لمانځه دتعريف او اهميت په هکله خبرې وکړي.
- زده کوونکي دې يو ځل د لوست متن په پټه خوله مطالعه کړي، او بيا دې د لوست لنډيز په ساده ژبه تکرار کړي .

ارزونه : څوک کولای شي لمونځ تعريف او د هغه شرطونه او ارکان ووايي ؟

آيا زده کوونکي د لمانځه د شرطونو او رکنونو تر منځ فرق کولای شي ؟

ښاغلی ښوونکی ! د دغه لوست اساسي ارکان او دا چې لمونځ انسان د ناوړه کارونو څخه څرنګه منع کوي، زده کوونکو ته په ساده ژبه بيان کړئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیارلسم لوست

## د لمانځه واجبات

هدف: د لمانځه د واجباتو پېژندنه

د لمانځه واجبات کوم دي؟

د لمانځه واجبات په لاندې ډول دي:

۱. د لمانځه په ټولو رکعتونو کې د (الحمد لله) ویل .

۲. د (الحمد لله) څخه وروسته د یو سورت لوستل .

۳. لومړۍ قعده په درې اوڅلور رکعتي لمونځونو کې .

۴. په دواړو قعدو کې د(التحیات تر عبده ورسوله) پورې ویل.

۵. په جهري لمونځونو کې د امام له پاره په جهر سره قرائت ویل (الحمد لله او سورت).

۶. په خفیه لمونځونو کې په خفیه سره قرائت ویل.

۷. د وتر لمونځ په دریم رکعت کې د قنوت د دعا ویل.

۸. په اطمینان او ارامۍ سره د ارکانو اداء کول.

۹. د امام پیروي کول.

که له پورتنیو واجباتو څخه کوم یو په سهوې سره پاتې شي لمونځ یې ناقص ګڼل کیږي، د سهوې سجده لازمیږي.

هڅونه:

- هر زده کوونکی دې د یوه یوه واجب نوم واخلي. او په لمانځه کې دې په عملي توګه اداءکړي

ښاغلی ښوونکی !

شاګردانو ته دواجباتو حفظول دکورنۍ دندې په توګه ورکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوارلسم لوست

## د لمانځه سنتونه

هدف: د لمانځه د سنتو پیژندنه.
پوښتنه: سنت څه ته وايي او د لمانځه سنتونه کوم دي؟

سنت هغه عمل ته وايي چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ډېره موده اداء کړي او کله کله يې ترک کړي هم وي، په لمانځه کې د سنتو رعايت لمونځ تکميلوي او ثواب يې زيا تيږي. که په لمانځه کې د سنتو څخه کوم يو قصداً يا سهواً ترک شي لمونځ نه باطليږي او د سهوې سجده هم په لمونځ کوونکي نه لازميږي مګر د لمانځه ثواب يې کميږي. د لمانځه سنتونه په لاندې ډول دي:

١. د نارينه ؤ لپاره د غوږونو تر نرميو پورې د دواړو لاسونو پورته کول. او د ښځو لپاره تر اوږو پورې پورته کول سنت دي.
٢. د نارينه لپاره ښی لاس په چپ لاس ايښودل او ترنامه لاندې نيول او د ښځې لپاره په سينه ايښودل سنت دي.
٣. د سُبْحَانَکَ اللّٰهُمَّ .... ويل.
۴. د ((اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ)) او ((بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ)) ويل.
۵. د (( وَلَا الضَّالِّيْنَ)) د ويلو وروسته په خفيه توګه آمين ويل.
٦. په رکوع کې درې ځله (( سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ )) او په سجده کې درې ځله ((سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰی )) ويل.
٧. د امام لپاره د (( سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ )) او د مقتدی لپاره د (( رَبَّنَا لَکَ الْحَمْدُ)). او د تنها لمونځ کوونکي لپاره.د دواړو ويل .
٨. د فرضو په دوو اخيرنيو رکعتونو کې د ((اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ)) ويل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹. د انتقالاتو د تکبیرونو، ((سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ)) او امام ته په جهر سره سلام ویل.

۱۰. د نارینه لپاره په داسې ډول کیناستل چې چپه پښه اواره کړي او ښی پښه یې درولې وي او ښځې دواړه پښې ښی خواته وباسي او کیني.

۱۱. د ((اَلتَّحِیّاتُ...)) ویلو څخه وروسته درود او دعا ویل.

۱۲. ښي او چپ طرف ته سلام ګرځول.

هڅونې:

- زده کوونکي دي دلمانځه سنتونه په ډله ییزه توګه تمرین کړي.
- دسنتو په هکله دې یو له بل څخه پو ښتنې وکړي .

ارزونه:

- آیا زده کوونکو د لمانځه سنتونه زده کړي دي؟

ښاغلی ښوونکی!

دا برخه په دوه درسي ساعتو نو کې تدریس کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه لسم لوست

# دلمانځه مستحبات

هدف: د لمانځه د مستحباتو پیژندنه

مستحب څه ته وایي او د لمانځه مستحبات کوم دي؟

د مستحباتو په مراعات کولو د لمونځ کوونکي ثواب زیاتیږي او په پریښودلو سره یې څه باک نشته .

د لمانځه مستحبات په لاندې ډول دي:

۱. هغه شیانو ته چې حضور خرابوي، نه کتل .
۲. د تثاوب (خوله وازولو) په وخت کې د چپ لاس په شټ سره خوله پټول مستحب دي.
۳. د توان په اندازه د ټوخي دفع کول مستحب دي.
۴. د(حَيَّ عَلَى الصَّلٰوة )د ویلو په وخت کې لمانځه ته پورته کیدل مستحب دي.
۵. دامام لپاره د(قَدْ قَامَتِ الصَّلاة) ویلو په وخت کې په لمانځه پیل کول مستحب دي.
۶. د لستوني څخه د لاسونو ایستل مستحب دي.

هڅوني:

- زده کوونکي دې دلمانځه دمستحباتو په هکله یو له بل څخه پو ښتنې وکړي.
- زده کوونکي دې د لمانځه مستحبات تمرین کړي.

ارزونه:

- آیا زده کوونکي د مستحباتو نومونه اخیستلی شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپاړسم لوست

# دلمانځه مکروهات

هدف: د لمانځه د مکروهاتو پیژندنه
مکروه څه ته وایي او په لمانځه کې مکروهات کوم دي؟

مکروه بد او ناخوښه اعمالو ته وایي، د لمانځه مکروهات ټول هغه شیان دي چې د لمانځهٔ له ادبونو سره سمون نه لري.
په لمانځه کې د مکروهاتو مرتکب کیدل که څه هم لمونځ نه فاسدوي مګر د ثواب په کمولو کې اغیزمن رول لري .
د فقهې په کتابونو کې د زیاتو مکروهاتو نوم اخیستل شوی دی چې د هغو له جملې څخه د( لمونځ کوونکي له خپلو جامو ، بدن ، او نورو غړو سره د لوبې کولو) نوم اخلو.

هڅوني:
- زده کوونکي دې لوست داستاد له توضیح څخه وروسته په پټه خوله مطالعه کړي.
- زده کوونکي دې په ډله ییزه ټوګه یو د بل څخه پوښتنې و کړي .

ارزونه:
- آیا زده کوونکي کولای شي د لمانځه د څو مکروهاتو نومونه ذکر کړي؟

ښاغلی ښوونکی ! زده کوونکو ته دنده ورکړئ چې په خپلو کتابچو کې د لمانځه مکروهات ولیکي ، او همدارنګه زده کوونکي دې د لمانځه مکروهات په خپلو کورونو کې له خپلو دوستانو سره تکرار کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووه لسم لوست

# دلمانځه فاسدوونکي

هدف: دلمانځه دمفسداتو پيژندنه
ځوک کولی شی چې دلمانځه دمفسداتو نومونه واخلي؟

د لمانځه فاسدوونکي هغه عملونه دي چې د لمانځه د فاسدولو سبب کيږي چې په لاندې ډول بيانيږي :

۱- په لمانځۀ کې ځنبل او يا د هغه شي خوړل چې د نخود له دانې ځخه يې حجم او وزن زيات وي.
۲- په لمانځه کې خبرې کول اګر که سهواً هم وي .
۳- اه ، اوه کول.
۴- بيهوشې (بی خوده کيدل).
۵- په داسې توګه خندا کول چې په خپله يې اواز واوري.
۶- په لمانځه کې داسې عمل کول چې ليدونکی فکر وکړي. چې دا شخص په لمانځه کې نه دی.
۷- په ژبه يا لاس سره د سلام ځواب ورکول.
۸- د غم، درد ، يا خوشحالۍ له کبله په لوړ اواز ژړل.
۹- د عورت لو ځوالی د لمانځه په بشپړ رکن کې .
۱۰- پرته له خپل امام ځخه بل چاته فتحه ورکول.
۱۱- په ((يَرْحَمُکَ اللّهُ)) سره د عطسې (پرنجي) ځواب ورکول.
۱۲- د قبلې ځخه خپله سينه ګرزول.
۱۳- داسې عمل ترسره کول چې اصلاً د لمانځه ځخه نه وي لکه تلل، جامه اغوستل....

پورتني شيان ټول د لمانځه فاسدوونکي دي که د لمو نځ کوونکي ځخه صادر شي لمونځ يې فاسديږي او بايد له سره يې را وګرځوي .

هځونه: زده کوونکي دې د لمانځه د مفسداتو په هکله په ګروپي توګه مباحثه وکړي.

ارزونه:

- آيا زده کوونکو د لمانځه مفسدات زده کړي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتلسم لوست

# د سهوې سجده

هدف: د سهوې سجده او د لازمیدو د وخت څرنګوالی
د سهوې سجده په لمونځ کوونکي څه وخت لازمیږي ؟

کله چې لمونځ کوونکی د لمانځه د واجباتو څخه یو هم پریږدي او یا په لمانځه کې د داخلي فرایضو په ادا کولو کې وروسته والی راولي او یا یې تکرار وکړي، د سهوې سجده پرې لازمیږي.
مثلاً: د واجب د پریښو د لو مثال لکه: لمونځ کوونکی چې د «اَلْحَمْدُلِلّٰهِ» ویل پریږدي. د فرضو په اداء کولو کې وروسته والی لکه :د اول تشهد د ویلو څخه وروسته درود شریف پیل کړي.او د فرضو د تکرارولو مثال لکه: دوه ځلې رکوع یا درې ځلې سجده تکرار کړي که چیرې یو شخص په یوه لمانځه کې څو واجبات پریږدي فقط یو ځل پرې د سهوې سجده لازمیږي.
د سهوې سجده په داسې طریقې سره اداکیږي چې د تشهد د ویلو څخه وروسته لمونځ کوونکی یوه طرف ته سلام ګرځوي او بیا دوه ځله سجده کوي، له سجدې وروسته تشهد، درود او دعا وایي او وروسته ښي او چپ طرف ته سلام ګرځوي .

هڅونه:
درې تنه زده کوونکي دې د هغه څه نومونه واخلي چې د سهوې سجده پرې لازمیږي.

ارزونه:
- آیا زده کوونکو هغه ځایونه پیژندلي چې د سهوې سجده پرې لازمیږي ؟او په دې پوهیږي چې د سهوې سجده څه وخت او څرنګه أداء کیږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

نولسم لوست

# اذان او اقامت

هدف: داذان او اقامت دکلمو پيژندنه.
ځوک کولی شي اذان وکړی یا اقامت ووایي؟

د پنځه وخته لمونځونو او همدارنګه د جمعې د لمانځه له پاره اذان کول سنت دي.اذان د لمانځه دوخت د داخلیدو څخه وروسته کیږي. که ځوک د لمانځه د وخت له داخلیدو څخه د مخه اذان وکړي هغه به خامخا را ګرځوي. د اذان کلمې په لاندې ډول دي:

| | |
|---|---|
| اَللهُ اَكْبَرُ اَللهُ اَكْبَرُ | اَللهُ اَكْبَرُ اَللهُ اَكْبَرُ |
| اَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ | اَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ |
| اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ | اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ |
| حَيَّ عَلَى الصَّلَاة | حَيَّ عَلَى الصَّلَاة |
| حَيَّ عَلَى الْفَلَاح | حَيَّ عَلَى الْفَلَاح |

اَللهُ اَكْبَرُ اَللهُ اَكْبَرُ

لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ

اقامت د اذان په څېر دی یوازې د ((حَی عَلَی الْفَلَاح )) څخه وروسته دوه ځله ((قَدْقامت الصلوة)) ویل کیږي، د سهار په اذان کې وروسته له ((حَی عَلَی الْفَلَاحِ)) څخه دوه ځله ((اَلصّلوةُ خَیْرٌ مِنَ اَلنّوْمِ)) ویل کیږي.

هځونه:

- زده کوونکي دې داذان او اقامت کلمې په ګروپي توګه تمرین کړي .

ارزونه:

- آيا زده کوونکو داذان او اقامت کلمې زده کړې دي؟

ښاغلی ښوونکی ! د اذان او اقامت له یاده زده کول زده کوونکو ته د کورنۍ دندې په توګه ورکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شلم لوست

# د جماعت دلمانځه داداء کولو طریقه اوثواب

هدف: د جماعت د لمانځه د اداءکولو د طریقې پیژندنه اود هغه ثواب.
د جماعت د لمانځه په هکله څه معلومات لرئ؟
څوک کولای شي د جماعت د لمانځه د فضیلت په هکله خبرې وکړي؟

په جماعت سره د لمانځه اداء کول مؤکد سنت دي او زیات ثواب لري. په جماعت سره لمونځ اداء کول د مسلمانانو په منځ کې محبت، دوستي او پیژندنه زیاتوي، د یووالي او مرستې لاره پرانیزي، د جماعت د اداء کولو لپاره په یوه جومات کې راټولیدل مسلمانان د یو او بل له حال څخه خبروي. د یوه او بل د مشکلاتو په هکله فکر کوي او د حل لارې یې پیداکوي له دې کبله د جماعت لمونځ له تنها لمانځه څخه اووه ویشت (۲۷)درجې زیات ثواب لري اوپرته له شرعي عذر څخه د جماعت لمونځ پریښودل ګناه ګڼل کیږي.

کله چې وخت داخل شي نو اذان ویل کیږي وروسته له اذان څخه مسلمانان د جماعت د اداء کولو لپاره جومات ته ځي. وروسته اقامت ویل کیږي لمونځ کوونکي اوږه په اوږه په صفو نو کې په خپل امام پسې اقتدا ء کوي، امام په جهر سره تکبیر (الله اکبر) وایي او مقتدیان ورو تکبیر وایي.له تکبیر څخه وروسته امام او مقتدیان (سبحانک...) په خفیه ډول سره وایي، امام به د (اعوذبالله........ اوبسم الله.....) له ویلو وروسته که د ما سپښین، یا مازیګر لمونځ وي په خفیه فاتحه او یو بل سورت لولي، که چېرې د ماښام، ماخوستن، یا سهار لمونځ وي نو امام په جهر سره د فاتحې او یو بل سورت لولي او کله چې امام د فاتحې سورت په پای کې ((ولاالضالین)) ووایي امام او مقتدیان ورو ((آمین)) وایي. د سورت له ویلو وروسته امام په جهر سره تکبیر (الله اکبر) وایي او مقتدیان په خفیه سره ((الله اکبر)) وایي، ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library

رکـوع ته ټیټیږي، د رکـوع د ادا کـولو څخه وروســته امام ((سمع الله لمن حمده)) وايي، له رکوع څخه پورته کيږي، مقتديان (ربنا لک الحمد) وايي او له امام سره يو ځای له رکوع څخه پورته کيږي. وروسته امام په جهر او مقتديان په خفيه سره تکبير وايي، سجدې ته ځي، په سجده کې له درې ځله تسبيح (سبحان ربی الاعلی) ويلو څخه وروسته امام په جهر او مقتديان په خفيه سره تکبير وايي. له سجدې څخه پورته کيږي، يوه لحظه ارام کيني بيا دويمې سجدې ته ځي، د دويمې سجدې له ادا کولو وروسته امام په جهر او مقتديان په خفيه سره تکبير وايي، دويم رکعت ته پورته کيږي، دوهم رکعت د ((بسم الله الرحمن الرحيم)) په ويلو سره پيل کوي، د فاتحې سورت او يو بل سورت په کې وايي. بيا د اول رکعت په شان دويم رکعت اداء کوي بيا قعده کوي، په قعده کې التحيات اوتشهد وايي که چېرې لمونځ درې يا څلور رکعتي وي پاتې رکعتونه هم د لومړيو په شان اداء کوي، بيا په آخره قعده کې سربيره په التحيات او تشهد درود او دعا وايي. په پای کې لومړی ښي او بيا چپ خوا ته سلام کرځوي.

هڅونه:

زده کوونکي دې د جماعت لمونځ يو وار بيان کړي؟

ارزونه:

- آيا زده کوونکو دجماعت لمونځ زده کړی دی؟
- آيا زده کوونکي د جمعي او انفرادي لمونځ ترمنځ توپير کولای شي؟

ښاغلی ښوونکی!

زده کوونکو ته دنده ورکړئ چې مسجد ته لاړشي او د جماعت دلمانځه څرنګوالی زده کړي. او هغه موضوعات چې پرمقتديانو پورې مربوط دي په ساده ژبه واضح کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوویشتم لوست

# د مسافرلمونځ

هدف: د مسافرانه لمونځ پيژندنه .

څوک کولای شي چې دمسافر اومقیم د لمونځونو تر منځ فرق بیان کړي؟

داسي یو ځای ته تلونکي ته چې تر هغه ځایه پورې د درې شپو او ورځو په اندازه په پلي یا د اوښ په مزل چې په هواره ځمکه تقریبا د(۸۲) شپږ اتیا کیلو مترو په اندازه لار ووهي مسافر ویل کیږي، که مسافر پلی وي یا په موټر او یا الوتکه کې ناست وي . څلور رکعتي لمونځ به دوه رکعته اداء کوي . درې رکعتي لمونځونه به په خپل حال اداء کوي. سنت لمونځونه ورته معاف دي .او که يې بيږه نه وه نو اداء کول يې افضل دي.

که مسافر څلور رکعتي لمونځ پوره اداء کړي فرض يې له غاړې ساقطيږي، او که لومړی قعده ورڅخه ترک شي لمونځ يې فاسديږي. که مسافر منزل ته د رسيدو نه وروسته هلته د پنځلسو او يا زياتو ورځو لپاره د پاتې کيدو نيت وکړي نو په ده باندې لازمه ده چې څلور رکعتي لمونځ پوره اداء کړي .

د اقامت (پاتې کيدو) موده پنځلس ورځې ده اوله دې څخه په کمه موده کې د اقامت نيت نه صحيح کيږي.

که مسافر په مقيم امام پسې اقتداء وکړي د امام په پيروی دې لمونځ پوره اداء کړي او که دی په خپله امام ؤ نو د دوو رکعتونو په اداء کولو سره به سلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

وګرځوي .نو مخکې له مخکې دې خلکو ته ووايي چې زه مسافر يم تاسې خپل لمونځ پوره کړئ. که له مسافر څخه څلور رکعتي لمونځ پاتې وي د اقامت په حال کې به هم دوه رکعته را ګرځوي او د حضر د لمانځه قضايي د سفر په حالت کې پوره اداء کيږي.

ميرمن د پاتې کيدو په نيت کې د خپل خاوند او عسکر د خپل قوماندان تابع دی .

هڅونه:

زده کوونکي دې د مسافر د لمانځه په هکله يو له بل سره خبرې وکړي.

ارزونه:

ښاغلی ښوونکی دې د مسافر د لمانځه په باره کې نور زيات معلومات زده کوونکو ته ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه ویشتم لوست

# د ناروغ لمونځ

هدف: د ناروغ د لمانځه د اداء کولو د طریقې پیژندل.
آیا د روغ او ناروغ د لمانځه تر منځ فرق کولای شئ؟

لمونځ یو مهم عبادت دی ډیر فضیلت لري . د ناروغی په وخت کې هم د مسلمان له غاړې څخه نه ساقطیږي. کله چې ناروغ ته د لمانځه کول په ولاړه سخت شول په ناسته دې لمونځ د رکوع او سجدې سره اداء کړي .
که رکوع اوسجده یې هم نه شوای کولای په اشاره دې لمو نځ داسې وکړي چې د سجدې اشاره یې د رکوع له اشارې څخه ټیټه وي .ناروغ دې د سجد ې کولو له پاره کوم لوړ شی مخ ته نه ږدي، که ناروغ د ناستې توان نه درلود نو ستوني ستغ دې داسې واچول شي چې پښې یې قبلې ته وي. په اشاره دې لمونځ وکړي که په اړخ باندې داسې واچول شي چې مخ یې قبلې ته وي هم صحیح دی. که د اشارې توان ونه لري لمونځ دې پریږدي تر څو چې جوړ شي او د سترګو او وروځو او زړه په اشارې لمونځ نه صحیح کیږي .

هڅونه :
زده کوونکي دې د مریض د لمانځه په هکله یو له بل سره خبرې وکړي.
ارزونه :
آیا زده کوونکي کولای شي چې د مریض لمونځ تشریح کړي ؟
آیا زده کوونکو د مریض دلمانځه د اداء کولو ترتیب زده کړی دی ؟

ښاغلی ښوونکی دې د ناروغ د لمانځه پورتنۍ طریقه په زده کوونکو باندې عملي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوويشتم لوست

# د جمعې لمونځ

هدف: دجمعې د لمانځه د اداکولود وخت او طريقې پېژندل.

د جمعې د لمانځه د اداکولو شرطونه کوم دي؟

څوک کولای شي د جمعې د لمانځه ګټې بيان کړي؟

د جمعې لمونځ دوه رکعته دی او په هر مسلمان چې عاقل ، بالغ او ازاد وي فرض دی، په هغه صورت کې چې مسافر، ناروغ يا بل هغه څوک چې د جمعې لمونځ پرې فرض نه وي او د جمعې لمونځ اداء کړي د ماسپښين لمونځ پرې نشته.

د جمعې لمونځ په هغه ځای کې اداکيږي چې سلطان يا د هغه نايب موجود وي، د جمعې د لمانځه وخت د ماسپښين د لمانځه وخت دی چې لږ تر لږه پر ته له امام نه بايد درې تنه په کې ګډون ولري، د جمعې د لمانځه ځای ته د ټللو عامه اجازه هم شرط ده. د جمعې د لمانځه د ادا کولو له پاره دوه ځله اذان کول سنت دي؛ چې په لومړي اذان سره بايد ټول مسلمانان خپل کاروبار پرېږدي. او د لمانځه د ادا کولو لپاره حاضر شي. کله چې امام په منبر کښني دويم اذان امام ته مخامخ کيږي او امام خطبه لولي او د دواړو خطبو تر منځ دې لږ کيني، د خطبې ويلو په وخت کې مقتديان بايد خامخا خطبې ته غوږ ونيسي .

که چيرې يو څوک د جمعې په لمانځه کې له امام سره په تشهد «التحيات...» لوستلو کې شريک شي د جمعې لمونځ يې نيولی دی، د جمعې دوه رکعته لمونځ دې د مسبوق په شان ادا کړي. که چېرې څوک د جمعې د لمانځه د ادا کولو وس ونه مومي د ماسپښين لمونځ دې وکړي.

هڅونه:

- زده کوونکي دې د جمعې د لمانځه د ادا کولو د شرطونو په اړوند په خپلو کې سره خبرې وکړي او د پوښتنو او ځوابونو په توګه دې تمرين کړي .

ارزونه: د جمعې د لمانځه د ادا کولو شرطونه کوم دي؟

لارښوونه:

- ښاغلی ښوونکی دې د جمعې د لمانځه ګټې زده کوونکوته پوره بيان کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ددویم فصل تمرین

۱- د اسلام ارکان څو ، او لمونځ یې څووم رکن دی؟
۲- ایا د سنتو په ترک سره د سهوې سجده لازمیږي ؟
۳- مکروه څه ته وایي ؟
۴- پلتیۍ وهل په لمانځه کې جواز لري او که نه ؟
۵- د پنځو هغو شیانو چې لمونځ پرې فاسدیږي نومونه واخلئ!
۶- د سهوې د سجدې کولو طریقه بیان کړئ!
۷- اذان او اقامت څه فرق لري ؟
۸- د جماعت لمونځ د یوازي لمانځه سره څه فرق لري ؟
۹- ایا تشهد مو زده دی ویې وایئ!
۱۰- درود شریف ولولئ!
۱۱- په لمانځه کې کومه دعا لولئ ؟
۱۲- سجده سهوه په کوم حالت کې لازمیږي؟
۱۳- د مسافر دلمانځه په هکله څه معلومات لرئ ویې وایئ !
۱۴- د ناروغ او روغ لمونځ څه فرق لري ؟
۱۵- د جمعې لمونځ څو رکعته دی او څه ډول ادا کیږي؟
۱۶- د سترګو، وروځو او زړه په اشاره لمونځ کول جواز لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم فصل

ځلیر ویشتم لوست

## اخلاق

## د اخلاقو ارزښت

هدف: د ښه خوی د ارزښت پیژندنه او دانسان په شخصیت کې د هغه اثر .

پوښتنه : آیا تاسو د اخلاقو ارزښتونه پیژنئ ؟

د ښو خویونو درلودل د اسلام د مبارک دین د ارشاداتو له جملې څخه دي .

هغه څوک چې ښه اخلاق او ښه خوی ولري په خلکو ګران وي ، او احترام یې کوي. د ښو خویونو درلودل او ادب، د زده کوونکو د ښې تربیې دلیل دی، همدارنګه د یوې ټولنې پر مختګ او نیکمرغي د نیکو اخلاقو لرونکو انسانانو پورې اړه لري .

د نیکو اخلاقو او ښو خویونو په واسطه کولای شو چې هم خپلې او هم د ټولنې ستونزې لیرې کړو .

غوره اخلاق عبارت دي له :

تقوا ، رینښتینولي، حیاء، امانت ساتل، ترحم، خیر غو ښتنه، ښښنه، وفا ، عدالت، احسان او نیکي، له نورو سره مرسته او کومک او داسې نور نیک صفتونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې اساس په زده کوونکو لازم د ي چې د ښو اخلاقو او ښو خويونو په لرلو خپل ځانونه د ټولنې وګړو ته د منلو وړ کړي.

هڅونې:

- زده کوونکي دې لوست په پټه خوله مطالعه کړي.
- زده کوونکي دې دښو خويونو په هکله مباحثه وکړي.

ارزونه:

- ايا زده کوونکو د ښو اخلاقو ارزښت درک کړی دی که نه؟

ښاغلی ښوونکی دې د ښو خويونو په باره کې زده کوونکو ته ځو لنډې کيسې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه ویشتم لوست

# انساني کرامت

هدف: د انساني کرامت پېژندنه:

الله تعالی انسانان عزتمن پیدا کړي دي او پرنورو ټولو مخلوقاتو یې ورته عزت وربخښلی دی؛ نو پر ټولو لازمه ده، چې ترڅو ژوندي اوسي دغه عزت خوندي وساتي.

د انسان کرامت اوعزت پدې کې دی، چې له الله تعالی او دهغه له رسول صلی الله علیه وسلم څخه پیروي وکړي. هرڅومره، چې یوانسان له الله جل جلاله اودهغه له رسول صلی الله علیه وسلم څخه پیروي کوونکی وي په هماغه کچه د کرامت اوعزت وړدی.

د انساني کرامت څخه برخمن انسان پداسې حال کې چې الله تعالی، پر خپلو اعمالو څارونکی ګڼي هېڅکله هم ګناه ته نه نيږدې کيږي.

هغه څوک چې دخپل ځان او نورو د مقام او کرامت ساتلو کې پاملرنه نه کوي؛ نو د خپل نفس ذلیلو او ټیټو غوښتنو ته غاړه ږدي، د ذلت اوپستۍ سره مخ کیږي اوخپل مقام له لاسه ورکوي.

غلط کارونه کول، ګناه ته مخ اړونه او اخلاقي کمزوریو اومنفي نفسي غوښتنو ته تسلیمېدل دکمزورو اوضعیف النفسه انسانانو له کارونوڅخه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فقیر، چې عزت النفس لري؛ سوال اوغلا نه کوي؛ عالم، چې د نفس کرامت په پام کې نیسي؛ لویي نه کوي اوله نورو خپل علم پټ نه ساتي. پاچا، که وغواړي چې خپل عزت النفس وساتي نو پرنورو ظلم نه کوي. او د انصاف اصول مراعاتوي. د هر چا عزت اومقام د هغه د همت په کچه دی او عزت او انساني کرامت ته د رسېدلو لپاره د الله لوري ته رجوع کول او حکمونو یې منل دي.

هڅونې:

زده کوونکي دې د انساني نفس دکرامت په هکله په ټولګي کي په ډله ییزه توګه خبرې وکړي.

ارزونه:

آیا زده کوونکي د انساني کرامت په هکله په څه پوهیدلي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږ ویشتم لوست

# د سلام د يني اوتړولنيز ارزښت

هدف: د سلام د ديني او ټولنيز ارزښت سره اشناکېدل او ځان پرې عادت کول .

آيا د سلام په ديني اوټولنيز ارزښت باندې پوه ياست؟

څوک کولای شي د سلام د ارزښت په هکله خبرې وکړي؟

زموږ په دين کې سلام ويل سنت دي، ځکه سلام ويل دښمني او عداوت له منځه وړي اود دوستۍ او محبت سبب ګرځي. بايد پوه شو چې سلام ويل سنت دي او ځواب يې واجب دی. د سلام لفظ دادی (اَلسّلَامُ عَلَيْکُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَکَاتُهُ) او ځواب يې (وَعَلَيْکُمْ السّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَکَاتُهُ) دی. ښه زده کوونکی هغه دی چې د هر چا سره مخامخ شي هغه ته سلام واچوي او کله چې ښوونځي ته ځي خپلو ټولګيوالو او ښوونکو ته سلام اچوي او کله چې خپل کور ته ځي د کورنۍ غړو ته سلام اچوي. په دې هم بايد پوه شو چې واړه بايد لويانو ته او سپاره پياده خلکو ته سلام واچوي. د مسلمان له ښوخويو څخه يو دادی هغه څوک چې ورسره مخامخ کيږي په سلام ويلو کې ورڅخه مخکې شي اوکه څوک پيژني يا يې نه پيژني سلام پرې واچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هڅوني:**
زده کوونکي دې دوه دوه تنه په خپلو کې يوبل ته سلام واچوي.

- زده کوونکي دې د سلام کلمې سمې زده کړي.

ارزونه:

- آيا زده کوونکو د سلام او د سلام د ځواب کلمې زده کړې دي؟

ښاغلی ښوونکی دې زده کوونکو ته د سلام ګټې بيان کړي او تشويق دې کړي چې په کورنۍ او لاره کې هر چاته سلام واچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووه ویشتم لوست

# د ملاقات آداب

هدف:دملاقات اوخبرو کولو د آدابو پیژندنه .
آیا د ملاقات له ادابوسره څه آشنایي لرئ؟

د اسلام سپېڅلي دین مونږ ته لارښوونه کړې ده چې که یو څوک وغواړي د چا کور ته داخل شي باید اجازه وغواړي، درې ځله دې دروازه وټکوي، که چېرې د کور څښتن اجازه ورکړي کولای شي په ډیر احترام او سلام ویلو سره داخل شي اوکه چیرې یې اجازه ورنه کړه باید پرته له دې چې خپه شي را وګرځي.

د ملاقات او خبرو په وخت کې باید په ډېرو سمو کلمو او تعبیرونو سره خبرې وکړي اود خبرو کولو نوبت رعایت کړي. د خبرو کولو په ترځ کې د نورو د خبرو قطع کول او په خبرو کې څوک نه تحقیرول د دیني اخلاقو څخه دي. د اسلام په مبارک دین کې د هر مجلس لپاره ادبونه دي چې د هغو رعایت د مجلس په اهل باندې لازم دي.

هڅوني:

- زده کوونکي دې د ملاقات او د مجلس د ادابو په هکله مباحثه وکړي.
- زده کوونکي دې لوست په پټه خوله مطالعه کړي.

ښاغلی ښوونکیه !

دا لوست د سوال او ځواب په میتود تکرار کړئ نتیجه ورڅخه واخلئ. او زده کوونکو ته یې وړاندې کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اته ویشتم لوست

# د بې فایدې خبروڅخه ځان ساتنه

هدف: د بی فایدې خبروپیژندنه اوورڅخه ځان ساتنه

څوک کولی شي دبېهوده خبرو زیانونه بیان کړي؟

د مسلمان دډېرو ښوخويونو څخه يو هم د خپلې ژبې ساتنه ده. مسلمان دنده لري چې د بې ځايه او بې ګټو خبرو څخه خپله ژبه خوندي وساتي.

هره ښه اوبده خبره چې مسلمان يې کوي ملايکې يې ليکي او محفوظه يې ساتي او د قيامت په ورځ يې د هغې د ويونکي په وړاندې ږدي.

په يو مبارک حديث کې راغلي دي چې ژبه انسان د دوزخ په اورکې غورځوي نوڅوک چې د اسلامي اخلاقو پيرو، وي، د بدو الفاظو، بې فايدې خبرو، کنځلو او لعنت ويلو څخه خپله ژبه ساتي .

په يوه بل مبارک حديث کې راغلي دي چې «دمسلمان خوی دادی چې پرچالعنت نه وايي» حتی تردې چې داسلام په مبارک دين کې پرحيواناتو اونورو موجوداتو هم لعنت ويل ګناه ده.

بې ځايه خندا کول، بې ګټې وينا ، په بدو نومونو او القابو سره د خلکو يادول، هغه ټوکې چې دروغ په کې وي، او د چا د خفګان سبب شي لويه ګناه ګڼل شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهې او اخلاقو لرونکي هیڅکله دروغ نه وایي. بې ګټې خبرې نه کوي. کوم وخت چې غواړي خبرې وکړي په ځای او سنجش سره سمې خبرې کوي او زیار باسي چې په خبروکې یې دروغ نه وي.

هڅونې:

- زده کوونکي دې په ګروپي ډول لوست ووایي .
- زده کوونکي دې د لوست د محتوی په هکله مباحثه وکړي.

ارزونه:

- آیا زده کوونکي د لوست په محتوی او هدف پوه شوي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهه ویشتم لوست

# د نظافت (پاکۍ) ګټې

هدف: د نظافت له ګټو سره آشنايي

نظافت څه ګټې لري؟

د اسلام په پاک دين کې په نظافت باندې امرشوی دی اوهغه دايمان جزء بلل شوی دی. د ژوند پاک چاپېريال هم په اسلام کې زيات ارزښت لري. غسل، دجامو پاکوالی ، د ځان پاکوالی، د مسواک استعمال، د نوکانو اخيستل او استنجاء دا ټول په اسلام کې د روغتيا د ساتنې لپاره ضروري دي .

نو هر انسان ته لازمه ده چې د خپل ځان ، جامو ، خوراک او د څښلو د اوبو پاکوالي ته پام وکړي او د ناپاکو خوړو او نورو خرابو شيانو څخه چې په سرک او کوڅو کې پراته وي ځان وساتي ځکه چې ګردونه ، دوړې او مچان پرې ناست وي او د انسان د رنګارنګ ناروغيو سبب کيږي .

ښه او با تربيه زده کوونکي هميشه د خپل ځان په پاکوالي کې کو ښښ کوي. هغه خلک چې خپل نظافت ته پاملرنه کوي، خلک ورته د قدر او احترام په سترګو ګوري . او هغه خلک چې خپل نظافت ته پاملرنه، نه کوي، سربيره پر دې چې د ده صحت او روغتيا ته زيان رسوي او په ناروغيو اخته کيږي نور خلک هم هغه ته په بده سترګه ګوري .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هڅونې:**

- زده کوونکي دې د لوست متن په چوپتیا سره مطالعه کړي.
- زده کوونکي دې د لوست د محتوی په هکله مباحثه وکړي.

ارزونه: آیا زده کوونکو د نظافت گټې پېژندلې دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیرشم لوست

# خپلې روغتیا ته پاملرنه

هدف: د روغتیا له ارزښت سره د زده کوونکو آشنایي

آیا د خپل بدن په هکله مو خپله دنده پیژندلې ده؟

آیا د سګرټو او نسوارو په زیان پوه یاست؟

روغتیا د الله تعالی د ډیرو لویو نعمتونو څخه ده. د اسلام په سپیڅلي دین کې په هر انسان باندې د هغه خپل ځان حق لري او د خپل ځان د حق ساتنه د انسان لومړنۍ دنده ګڼل شوېده؛ نو باید هوښیار انسان د خپل ځان په ساتنه کې کوښښ وکړي او ورته متوجه وي.

هغه خلک چې د خپل ځان ساتنې ته پاملرنه، نه کوي او یا د ناپوهو خلکو په عملونو دوکه کیږي، او بې له دې چې خپل راتلونکي ته پام وکړي د نسوارو، سګرټو په استعمال خپل ځان عادتوي، سربیره پر دې چې د مختلفو تکلیفونو لکه: د خولې بد بويي، د غاښونو، تنفسي جهاز او هاضمې د خرابوالي سبب کیږي او په حقیقت کې په خپل لاس خپل ځان د هلاکت کندې ته غورځوي.

د اسلام مبارک دین مونږ د نسوارو ، سګرټو او نورو نیشه يي شیانو له استعمال څخه منع کړي یو ، او د هغو استعمالول ګناه کڼي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه څوک چې د خلکو په منځ کې ، په موټر، دفتر او نورو ټولنيزو ځايونو کې سګرټ څکوي سربيره پردې چې يو بې ګټې کار سرته رسوي د نورو خلکو د اذيت او آزار او د خپلو پيسو د بې ځايه نابودۍ سبب هم کيږي .

ښه زده کوونکي نه يوازې دا چې خپل ځان له دغو هلاکوونکو شيزونو څخه ساتي بلکه نور خلک هم د هغه ضررونو ته متوجه کوي .

هڅونې:

- زده کوونکي دې د روغتيا د نعمت په هکله مباحثه وکړي.
- زده کوونکي دې هر يو د سګرټ څښلو، يو يو زيان بيان کړي.

ارزونه:

- آيا زده کوونکو دمخدره موادو زيانو نه درک کړي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو دیرشم لوست

# د فقیرانو سره احسان

هدف: د فقیرانو د حقونو پیژندنه.

فقیر چاته ویل کیږي ؟آیا پوهیږئ چې فقیران په غنیانو څه حقونه لري ؟

فقیر هغه شخص ته ویل کیږي چې څه نه لري او د نورو خلکو مرستې ته اړتیا لري. همدارنګه د ځان او اولاد له پاره د ډوډۍ ، جامو ، دوا او داسې نورو ضروري شیانو د اخستلو توان نه لر ي .

لازمه اوضروري خبره ده چې توانمن او غني خلک د بې وزلو او غریبانو سره کومک وکړي ، د مالونو فرضي زکاتونه هغوی ته ورکړي، صدقې او نور کومکونه هم له هغوی سره وکړي. له یوې خوا به الله تعالی دوی ته ثواب ورکړي، مالونه به یې پاک شي او له بلې خوا به له فقیرانو سره مرسته هم شوې وي او د خلکو به ورسره د دوستۍ، وروروګلوۍ، او مهربانۍ اړیکې پیدا شي، او د دوی تر منځ به کینه، عداوت او د بد بختۍ نور عوامل هم لر ې شي.

تاسو هم کولای شئ چې له فقیرانو سره کومک وکړئ. د یوې اندازې پیسو ، ډوډۍ او یا د ښې لارښوونې او نیکو خبرو په کولو سره له هغوی سره مرسته وکړئ .

که زمونږ د خپلوانو له جملې څخه کوم یو فقیر وي؛ په دې صورت کې هغه په مونږ باندې دوه حقونه لري: یو د قرابت او خپلوۍ حق او بل د فقیرۍ او غریبۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

حق، له فقیرانو سره کومک د الله ـ ج) له هدایاتو څخه دی، نو پر مونږ باندې لاژمه ده چې د خپل توان په اندازه له غریبانو او فقیرانو سره مرسته او کومک وکړو .

هڅونې:

- زده کوونکي دې دلوست متن په چوپتیا سره مطالعه کړي.
- زده کوونکي دې د لوست مطلب په خپلو ژبو ووایي.

ارزونه:

- آیا زده کوونکو د لوست مطلب زده کړی او د فقیرانو سره د مرستې کولو فکر ورسره پیداشوی دی؟

ښاغلی ښوونکی دې له فقیرانو سره د مرستې په ښو او مفیدو لارو چارو زده کوونکو ته معلومات ورکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه دیرشم لوست

# د ژوند کولو هدف

هدف: د ژوند د ارزښت پیژندنه .
آیا پوهیږئ چې الله تعالی مونږ د څه له پاره پیدا کړي یو ؟

الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایلي دي : (وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ) د الذاریات سورت (**٥٦**) آیت.
ژباړه: ما نه دي پیدا کړي پیریان او انسانان مګر د خپل عبادت او (پیژندنې) له پاره.
د اسلام د مبارک دین د لارښوونو او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د سنتو څخه په ډاګه څرګندیږي چې ژوند لوی ارزښت او ځانګړی اهمیت لري . نو ضروري ده چې هر مسلمان خپل ژوند د قرآن کریم او نبي کریم صلی الله د لارښوونو په رڼا کې تیر کړي، او خپل قیمتي عمر چې د ژوند تر ټولو لویه سرمایه ده بې فایدې تیر نه کړي.
بلکې لازمه ده تر څو خپل ټول عمر په نیکو ، غوره ، اخلاقي او اجتماعي کارونو کې مصرف کړي.

هڅونې:
زده کوونکي دې په خپلو منځو کې د ژوند د ارزښت په اړه یو له بل سره خبرې وکړي .

ارزونه :
آیا زده کوونکي د ژوند په ارزښت پوهیدلي دي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دري د پرشم لوست

# په اسلام کې د علم ارزښت

هدف: د علم د ارزښت پيژندنه.

د علم اهميت او ارزښت د اسلام له راتلو سره ملګرى وو.په اسلام کې ښوونه او روزنه د ټولنيز نظام بنسټ دى .

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي :(طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيضَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ) (سنن ابن ماجه)

**ژباړه: د علم زده کړه په هر مسلمان ( نر او ښځه ) فرض ده .**

**لومړني آيتونه چې په پيغمبر صلى الله عليه وسلم نازل شوي دي په هغو کې په ښوونه او روزنه امر شوى دى. الله ( جل جلاله ) فرمايلي دي : (اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ) (د العلق سورت آيت ١)**

ژباړه: ولو له (اى پيغمبره ) د خپل ر ب په نوم چې هغه پيدا کړ.

روايت شوى دى : چې د بدر په غزا کې هر باسواده بندي چې د مسلمانانو په لاس بندي شوى وو په هغه صورت کې له بند څخه آزاديدلاى شو چې د مدينې منورې لسو ماشومانو ته به يې ليك او لوست ور وښود .

نو پر مونږ مسلمانانو لازمه ده چې د علم او تر بيې په زده کړه کې ځانګړې پاملرنه وکړو او له دې لارې د دنيا او آخرت نيکمرغي او کاميابي تر لاسه کړو .

هڅوني:

زده کوونکي دې د علم د ارزښت په اړه په خپلو منځونو کې سره خبرې وکړي .

ارزونه:

آيا زده کوونکي د علم د ارزښت په اړه پو هيدلي دي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دریم فصل تمرین

۱- اخلاقي فضایل کوم دي؟
۲- سلام اچول څه حکم او څه ګټې لري؟
۳- د سلام ټولنیزې ګټې بیان کړئ!
۴- د خبرو او ملاقات آداب کوم دي؟
۵- د دوستانو کور ته د ننوتلو آداب کوم دي؟
۶- د بېهوده خبرو ضررونه کوم دي مثالونه یې بیان کړئ!
۷- د دخانیاتو(نشه یې توکو) زیانونه بیان کړئ!
۸- آیا بی وزله د غنیانو په مال کې حقوق لري؟
۹- د روغتیا ساتنه څه فردي او ټولنیزې ګټې لري؟
۱۰- د علم ارزښت د اسلام له نظره بیان کړئ!
۱۱-(وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ) ترجمه کړئ!

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**